NHS
Greater Glasgow and Clyde

# د NHS خدمتونو لپاره په سکاټلينډ کې د پناه غوښتونکو او کډوالو (AHBT) اړوند لنډ لارښود

A brief guide to NHS service in Scotland for Asylum Seekers and Refugees (AHBT) (Pashto)

**په لاندنيو ژبو موجود دی:**

کردي، فارسي، عربي، تېګرېنيا، ماندرين، فرانسوي، اردو، امهاريک

## د انتظار وخت

NHS د درملنې خدمتونه لپاره د انتظار وختونه لري. بيا هم، هغوی بايد باوري کړيچې د ناروغان درملنه پر وخت او اغېزمنه توګه ترسره کېږي.

که چېرې دعمومي ډاکټر له لوري نورو خدمتونو ته راجع کيږئ، بايد تاسې ته په دې اړه چې ولې راجع شوي ياست، د انتظار اټکل شوی وخت، د ملاقاتونو وختونو ساتلو لپاره ستاسې مسوليتونه او د نه حاضرېدو پايلو اړوند معلومات درکړي.

## د روغتيايي پاملرنې اضافي لګښتونو کې مرسته

اکثره روغتيايي پاملرنې او خدمتونه وړيا دي. بيا هم، سکاټلينډ کې د NHS ناروغانو څخه غوښتنه کېږي چې ځينې اضافي لګښتونه لکه د غاښونو پاملرنه، عينکې، د سترګو لېنز، مصنوعي وېښتانو او ټوکرو لپاره پيسې ورکړي.

د NHS هر لړ عايد لرونکی ناروغ له دغو اضافي لګښتونو څخه د HC1 فورمې ډکولو پوسيله، چې د عمومي ډاکټر، د NHS روغتونونه، درملتونونه او د مشاورتی ادارو کې موجود دي، له دغو لګښتونو معاف کېدلی شي. که چېرې ومنل شي، يو HC2 سند به صادر شي. کله چې له ناروغان څخه د اضافي لګښت د تاديي غوښتنه وشي بايد خپل HC2 سند وړاندې کړي.

## نظرونه او شکايات

هغه څه چې په اړه بيشکايت کولی شئ:

- هغه پاملرنه يا درملنه چې تاسې په NHS کې درلوده يا يي لري
- د هر هغه څه په اړه چې تاسې ليدلی وي، د مثال په توګه د ډاکټرانو عمليات، روغتون يا امبولانس په اړه
- د NHS هر هغه غړی چې ستاسې پاملرنې کې ښکېل و
- دا چې زموږ خدمتونه ستاسې سيمو کې څنګه تنظيم شوي، که چېرې يي ستاسې پاملرنه يا درملنه اغېزمنه کړې وي.

## څنګه شکايت کولی شو

لومړی بايد د کارکوونکو هغه غړی سره چې ستاسې پاملرنې کې ښکېل و خبرې وکړئ. که چېر دا کار وکړئ، موږ به له ځنډ پرته ستاسې شکايت حل کړو. که چېرې نه غواړئ د کارکوونکو هغه غړی سره چې ستاسې پاملرنې کې ښکېل و خبرې وکړئ، د کارکوونکو مشر غړی سره د خبرو غوښتنه وکړئ.

که چېرې بيا هم ناخوښ ياست، تاسې په ليکلې بڼه رسمي شکايت کولی شئ. که چېرې وغواړئ موږ له تاسې سره ستاسې شکايت ليکلو کې مرسته کولی شو. تاسې بايد لاندې معلومات ورکړئ:

- ستاسې بشپړ نوم او ادرس (او د ناروغ نوم او ادرس که چېرې تاسې د هغوی پر ځای شکايت کوئ) او،
- او د هغه څه په اړه چې څه او کله واقع شوی تفصيلی معلومات که امکان لري.

په دې اړه چې څنګه شکايت وکړئ مشورې لپاره، يا نورو معلوماتو لپاره له موږ سره په لاندې لارو اړيکه نيولی شئ:-

**تيلفون: 0141 201 4500**

**ايميل: complaints@ggc.scot.nhs.uk**

MIS 286692 - Pashto

**د سکاټلینډ ملي روغتیایي خدمتونه(NHS)**

اسکاټلینډ کې ملي روغتیایي خدمتونه د ټولو لپاره وړیا دی - د پناه غوښتونکو او کډوالو په ګډون.

هر هغه څوک چې د پناه غوښتنه وکړي، که چیرې پاتې وي یا بریالی شوی وي، سکاټلینډ کې د پاتې کېدو پر مهال د انګلستان د یو وګړی په توګه د درملنې ترلاسه کولو حق لري.

سکاټلینډ کې روغتیایي خدمتونه د عمومي ډاکټرانو (GPs) له لوري وړاندې کېږي. له همدې امله د عمومي ډاکتر خدمتونو سره راجستر کېدل اړین دی.

**روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی او عمومي ډاکټر سره راجستر کېدل**

1. کله چې لومړی استوګنې کې یاست له تاسې څخه به غوښتنه وشي چې له NHS څخه د روغتیایي پاملرنې کارپوهانو له لوري کوم چې د پناه غوښتونو ملي روغتیایي ډلې برخه دي څخه د روغتیا ارزونه ترسره کړئ. دغه ارزونه د هغو روغتیایي اندېښنو د پېژندلو لپاره ده چې بېړنی اقداماتو ته اړتیا لري او تاسې د NHS خدمتونو سره تړي.
2. دغه ډله به ستاسې ماضي او اوسنی روغتیایي ستونزو اړوند معلومات ټولوي او دا به ستاسې استوګنې ته نژدې عمومي ډاکټر ته لیږدول کېږي.
3. نوی استوګنې پر مهال، له NHS څخه یو کارت چې تاسې ستاسې سیمه‌ییز عمومي ډاکټر څخه خبروي ترلاسه کړئ. راجستر کېدو لپاره، کارت او نور هغه د پېژندګلوی اسناد چې کارت یې د راوړلو غوښتنه کوي خپل عمومي ډاکټر ته راوړئ.
4. عمومي ډاکټر یا د عملي نرس به تاسې ته نوري روغتیایي ارزونې درکولو هیله وکړي.
5. تاسې به همدارز د غاښونو او سترګو سیمه‌ییز ډاکټرانو په معلومات ترلاسه کړئ.

**د روغتیایي پاملرنې لاره**

**که ورځنۍ روغتیایي ستونزه لرئ**

خپل عمومي ډاکټر سره د ملاقات وخت وټاکئ. ستاسې روغتیایي ستونزې په پام کې نیولو سره، ستاسې عمومي ډاکټر به یو له لاندنی اقداماتو ترسره کړی:

- پرته له نورو اقداماتو ستاسې اندېښنه معاینه کړي
- تاسې ته د درملو لپاره نسخه درکړي
- تاسې به متخصصو خدمتونو ته راجع کړي (عمومي ډاکټر له نورو خدمتونو لکه عصبي روغتیا، د هډوکو ډاکټر، فیزیوتراپي او پېنو ناروغیو سره د وصلولو وسیله ده)
- تاسې روغتون کې بستر کړي

کله چې عمومي ډاکټر خدمتونه تړلي وي او یو ډاکټر سره خبرې کول وغواړئ، تاسې NHS 24 سره په وړیا ډول په 111 اړیکه نیولی شئ.

که چیرې جدي ناروغي یا ټپ لرئ

خپلې سیمه ییزې پېښو او بېړنیو مرستو څانګې ته ولاړ شئ. کله چې خپل نوی استوګنځي ته ولاړ شئ، وګورئ چې کوم یو یې تاسې ته نژدې دی.

**بېړنی حالت کې**

999 ته زنګ ووهئ

**د NHS خدمتونو لپاره ژباړن**

تاسې د NHS ټولو خدمتونو د روغتون او عمومي ډاکټر د ملاقات وخت، د غاښونو ډاکټر، د سترګو ډاکټر، د پښو ډاکټر، درمل جوړوونکو او داسې نورو په ګډون ته د ژباړن حق لرئ. د کارکوونکو یو غړی باید تاسې ته یو ژباړونکی وګوماري.

ستاسې روغتیایي پاملرنې وړاندې کوونکې چې تاسې ورته نیغه لاس رسی لري

**عمومي ډاکټران**

عمومي ډاکټر یو کورنی ډاکټر دی او د NHS ناروغانو لپاره عمومي روغتیایي پاملرنې سره د اړیکې اصلي وسیله ده. هغوی له ناروغانو سره خپلې روغتیا او ناروغۍ څخه د مخنیوی مدیریت کولو کې مرسته کوي او ټولو عمومي درملو په برخه کې روزل شوي دي.

**درمل جوړوونکي**

درمل جوړوونکي سیمه‌ییزو او اصلي کوڅو دکانونو کې موقعیت لري. هغوی درملو اړوند مشوره ورکولی شي او کوچنیو ناروغیو کې مرسته کولی شي.

**د غاښونو ډاکټر**

د NHS غاښونو ناروغ په توګه د راجستر کېدو لپاره، سیمه‌ییز غاښونو ډاکټر ته مراجعه وکړئ او د NHS راجستریشن غوښتنه وکړئ. ستاسې د غاښونو ډاکټر به ستاسې د اړتیا وړ پاملرنه، مشوره او درملنه وړاندې کړي او ستاسې خوله، غاښونه او ورې روغې وساتي.

**د سترګو ډاکټر**

د سترګو ډاکټر د سترګو د NHS وړیا معاینات چې سکاټلینډ کې د انګلستان ټولو وګړو ته وړیا دی ترسره کوي.